**د افغانستان د ولسي جرګې د ټاکنو د وروستيو پايلو د تصديق د بشپړه کيدو په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړی استازي ستفان دی ميستورا وينا**

د ډسمبر لومړی نيټه، ۲۰۱۰- ملګري ملتونه د ولسي جرګې لپاره د سپټمبر د ۱۸ نېټې د ټاکنو د وروستيو پايلو د تصديق د بشپړه کيدو په اړه د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کميسيون د نننی اعلاميې هرکلي کوي.

موږ د ولسي جرګې ډير ژر پرانستلو ته سترګې په لار يوو چې په افغانستان کې د ديموکراتيکې حکومتدارئ د تقويې په لار کې لا يو بل مهم ګام دی.

موږ د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کميسيون چارواکي، د افغانستان د ټاکنو خپلواک کميسيون، د ټاکنو د شکايتونو کميسيون د دوي د هڅو له امله ستايو چې د ولسي جرګې ټاکنې او دغه پروسه يې په ډيرو سختو شرايطو کې بشپړه کړه. موږ دې ته اشاره کړې ده چې په ټاکنو کې ځينې د پام وړ بې نظمی او درغلۍ شوې وې خو د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنو د شکايتونو کميسيون خپله ژمنتيا څرګنده کړه او دغه ستونزې يې د ټاکنو د قانون او د افغانستان د اسلامی جمهوريت د اساسي قانون د حکمونو سره سم هواري کړي.

**Strategic Communication and Spokespersons Unit**
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121

http://unama.unmissions.org
Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.